

پوهاند محمد بشیر دویال

# د شانګهای سازمان (SCO)لنډه پېژندنه او افغانستان ته یې اهمیت

(د شانګهای د سیمه ییز سازمان د اتلسمې کلنۍ غونډې په مناسبت)

د ( Shanghai Cooperation Organization )سازمان په ۲۰۰۱م. کال کې دچین، روسیې، قزاقستان، قرغزستان، ازبکستان او تاجکستان هیوادونو له خوا دګډو امنیتي، اقتصادي او فرهنګي همکاریو په موخه د چین د شانګهای په ښار کی جوړ شوی دی. دا د Euro Asia د منطقې یو ښه متمرکز او د اهدافو له پلوه سره پېیلی سازمان بلل کېږي. نو ښتګر یی د چین هیواد دی ، د پورته ذکر شویو هیوادو ترڅنګ افغانستان، هند، منګولیا او پاکستان یی هم ځینی غړی او ځینی یې ناظر غړی دی او بیلاروس، ترکیه او سریلانکا یی په دیالوګ او خبرو اترو کی برخه اخلی. بشریت ته دا تجربه ثابته شوه چې د مخامختیا او تقابل پرځای همکاری او وصل ډیر ګټور تمامیږی.
منطقوی سازمانونه له اقتصادی انضمام سره توپیر لری، مثلاً: سیمه ایزه همکاري او سیمه ایز اقتصادیانضمام یو شان نه دي آن داچې ددې دواړو تر منځ ډیر لږ اړیکه لیدل کیږي کیدای شي ځیني هیوادونه پخپل منځ کې دګڼ شمیر مسایلو په برخه کې دهمکارۍ لپاره هوکړې ته رسیدلي وي خوپرته له دې چې یو بل ته دسوداګریزو امتیازاتو په اړه قایل شي. په منطقوی سازمان کې یو ډول ( Functional/sectorial cooperation) همکاری موجوده وی، حال دا چې په اقتصادی انضمام کې ټوله توجه په بازار او تجارت باندی متمرکزه وی؛ یعنی یو( Market/Trade integration) شکل

لري.د همدې تجربی له مخې اوس په نړۍ زیات شمیر منطقوی سازمانونه لکه EUECOWAS, CAP, Cooperation Council, CACM,ASEAN, Gulfاو نور جوړ شوی دی. په دې وروستیوکې په ځانګړي ډول په آسیا کې، او خاصتاً زموږ لپاره د پاملرنې وړ یې SAARC,ECO,SCO, سازمانونه دي. دغه سازمانونه هم زموږ لپاره او هم افغانستان ددوی لپاره اړ او ګټور دی. په تیره بیا دغه ډول سازمانونه او په هغو کې غړیتوب زموږ لپاره له اقتصادی پلوه ډیر اهمیت لری. البته یو شمیر یی د اقتصادی مقاصدو تر څنګ امنیتی او نظامی اهداف هم لری، مثلاً د سارک د سازمان کلتوری اړخ ډیر جوت دی، خو ایکو تجارت ته ډیر ارزښت ورکوی، شانګهای بیا امنیتی مسایل هم خپله اجنداً کی شامل کړي دي، خو موږ ته مهم یی اقتصادی اهداف دی. په تیره بیا د وریښمو د لاری بیا جوړیدل له چین څخه تر پاریس پوری او له ولادی واستوک څخه ترلزبن پوری یي د ګړندی ریل ګاډی په واسطه تجارت د شانګهای یوه موخه ده. دا سازمان سیاسی موخې هم لری، البته کلتوری تعلقات یې هم بحثونو کی شامل دی، په دې توګه شانګهای یو سیاسی، اقتصادی، او ټولنیز سازمان دی. دغه سازمان په واقعیت کې د (شانګهای پینځه ډلې) یو پرمختللی جوړښت دی، چې په ۱۹۹۶م .کال کې دچین، روسیې، قزاقستان، قرغیزستان او تاجکستان ترمنځ دخپل منځنې باوړ د پیاوړتیا په موخه دیوه تړون له مخې جوړ شوې و. نوموړو هیوادونو په ۱۹۹۷م. کال کې په مسکو کې بله غونډه جوړه کړ چې په ترځ کې یې په سرحدي پولو کې دپوځیانو دکمولو په هدف یو موافقه لیک لاسلیک کړ. او په ۲۰۰۱م .کال کې له دې تړون سره د ازبکستان په یوځای کیدو سره دشانګهای دهمکارۍ سازمان په نوم ونومول شو. چین، روسیه، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان، او قرغیزستان د شانګهای تړون اصلي بنسټ ایښودونکي غړي دي او هند، ایران، پاکستان اومنګولیا لا تراوسه څارونکی غړیتوب لري. افغانستان په ۲۰۱۲م. کال کې د شانګهای څارونکی غړی شو، چې دغړیتوب له ورکړې وروسته د چین دبهرنیو چارو وزارت وویل چې دافغانستان امنیت او ثبات دسیمې لپاره ډیر مهم دی او هیله ده چې افغانستان به دناظر غړیتوب په ترلاسه کولو سره په سیمه کې دامنیت او ثبات لپاره خپلې هلې ځلي چټکي کړي( په هغه مهال افغانستان دبهرنیومداخلو او نیابتی جګړی له امله یو بی امنه هیواد و). وروسته بیا د افغانستان دریځ پکې اوچت او لا مهم شو، اوس چې د سولې د ټینګښت امکان ډیر زیات شوی دی دغه سازمان افغانستان ته دغړی په توګه په نوی نظر ګوری.

په منطقوی سازمانو، قاره یی سازمانو او آن لویو نړیوالو سازمانو (مثلاً م.م. سازمان) کې د غړیتوب ګټې زیاتی دی، خودا د مربوطه غړی هیواد په قوت، قوی پالیسی او ملی او بین المللی دریځ پورې هم اړه لری. په غونډو او بحثونو کی فعاله برخه لرل، ښه دیالوګ، لابیګری، او تفاهم ، مناسب موقف کی دریدل د یو هیواد ګټې خوندي کوي.

جغرافیایی موقعیت هم د هیوادونو دریځ باندې اغیزه لري. اوس د سیمې هیوادونه دې پایلې ته رسیدلی دی چی افغانستان د آسیا په دغه سیمه کی ستراتیژیک ارزښت لری. افغانستان د جنوبی او مرکزی آسیا د وصل نقطه ګرځیدای شی، چې د ټولو په ګټه ده. د آسیا زړه او د ریکا (۱-۸)په پرله پسې غونډو کی دا مسایل تر بحث لاندې راغلل او په ګډ توافق ومنل شول.

دلته به ولیدل شی چې افغانستان د شانګهای د اهدافو سره څومره همغږی دی او ګټې یې پکی دی، خومخکې تر هغه به ددغه سازمان په تشکیلاتو رڼا واچوو:

دغه سازمان دوه ګونی جوړښت لري، چې لومړی یې دسازمان دغونډو میکانیزم دی او بل یې دایمي څانګې چې په لاندې ډول دي:

۱. دحکومتونو دمشرانو شورا (لومړي وزیران)

۲. دبهرنیو چارو وزیرانو شورا،

۳. دملي اژانسونو دمشرانو غونډه (تر اوسه دشانګهاى سازمان ددفاع، اقتصاد، سوداګرۍ، ترانسپورت اوفرهنګ وزيرانو او دامنيتي چارواکو، لکه: کورنيو چارو وزيرانو، لوى څارنوالان او دغړو هيوادونو مرستندويه سازمانونو مشرانو غونډې ترسره شوې دي).

۴. ملي همغږۍ کوونکې شورا،

۵. سکرتريت،

۶. دترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې سيمه ييز مرکزجوړول




د شانګهاى د سازمان تشکيلاتى جوړښت

## دشانګهاى سازمان موخې:

۱. په سياسي ، اقتصادي، سوداګريزو او پوځي چارو کې دهمکارۍ پياوړتيا؛

۲. دغير قانوني کړنو، تروريزم، بيلتونپالنې او دغير قانوني کډوالۍ پروړاندې ګډه مبارزه؛

۳. دهيوادونو واکمنۍ ته درناوى؛

۴. دبالسټيک ضد توغنديو تړون ته درناوى؛

۵. دسيمې امنيت ساتنه؛

چين اوروسيه د دغه تړون مهم او قوي غړي دي او داسې بريښي چې دوى په نړۍ کې دامريکا دنفوذ او دځمکې په ټول غونډارۍ يې حاکم کيدوسره ډير موافق نه دي. دشانګهاى دسازمان سياسي دريځونه؛ لکه: په ۲۰۰۵م کال کې ديوه ټاکلي مهالويش له مخې د شانګهاى له غړو هيوادونو څخه دامريکايي ځواکونو د وتلو غوښتنه او دترهګرۍ ضد ګډ پوځي تمرينات، سبب شوي، چې دغه سازمان ته دنظامى اهدافو لرونکى سازمان په توګه هم وکتل شى.

له اقتصادی پلوه منطقویتوب او په کوچنۍ، متوسطه او لویه کچه د اقتصادی منطقو جوړول یو ضرورت دی. د اقتصادی منطقو جوړول او په هغو کې ګډون تر سیاسی روابطو هم مهم او په زړه پورې دی. په دې ډول روابطو سره اقتصادی وضعیت ښه کیږی، د سیمې د اوسیدونکو د ژوند ستندرد او چټیږی او اقتصادی سرچینې ډیرې ښې تخصیص کیږی. مارکیټونه سره نږدې کیږی او د ترانسپورت لګښتونه کمیږی، په دې توګه یوبل ځخه جلا کوچنی اقتصادونه یو بل سره متحد کیږی. د سیمې دننه له فزیکې او انسانی پانګو ځخه ښه استفاده کیږی، نوي صنایع ایجادیږی او د بهرنیو پانګو د جذب لپاره هم یوه ښه لاره ده. افغانان هیله لری چې د شانګهای اتلسمه کلنۍ غونډه چې په ازبکستان کې جوړیږی، په بریالیتوب او د غوره پایلو به لړلو سره پای ته ورسیږی. افغانستان چې د سمیې لپاره ستراتیژیک جیوپولیتیک او جیواکونومیک ارزښت او دمنابعو او اقتصادی ریزرفونو له پلوه قوی پوتانسیل لری، باید له دغو چانسونو غوره استفاده وکړی. ازبکستان د افغانستان دوست هیواد دی، چې د تاریخ په اوږدو کې د دغو دوو دوستو هیوادو تر منځ هیڅ ډول کړکیچ ندی واقع شوی. شمال ګاونډي د افغانستان لپاره تر تولو ډاډمن او مطمئن ګاونډیان وو او وروسته تر دې هم دی.

**پیاوړې دې وي د دوستو ګاونډیو ترمنځ دوستانه روابط**

**ژوندۍ اوتلپاتې دې وی ډاډمنه سوله**